# د محصلينو اسلامي تنظيم

اهداف

اساسات

تگلاره

تشکيلات

# د محصلينو اسلامي تنظيم

**اهداف**

**اساسات**

**تگلاره**

**تشکيلات**

بسم الله الرحمن الرحیم

# سریزه

الله تعالی انسان او د دې پراخ عالم هر څه د خاص مقصد لپاره پیدا کړي، انسان ئې په داسي غوره تقویم او جوړښت کي پیدا کړی چي د عالم هر څه د ده په خدمت کي، د زمکي خلافت د ده په واک کي او د الله تعالی عبادت ئې اساسي دنده او د پیداېښت هدف او مقصد وي.

د دې لپاره چي انسان دا ستره دنده تر سره کړی شي او د خپل ستر مأموریت دا دروند پېټی یووړی شي، د ده د لارښوونې لپاره ئې تل او د تاریخ په هر حساس موړ کي، د انسانانو له منځه، تر ټولو لوړ شخصیتونه د پیغمبرانو په توګه غوره کړي، د دوی په لاس ئې د هدایت هغه روڼ مشال لېږلی چي په رڼا کي ئې انسان کولی شي د خپل خلقت هدف وپېژني، کمال ته د رسېدو لار ومومي، له تیارو ووځي او د ښه او پتمن ژوند امکان ترلاسه کړي.

انساني تاريخ په حقيقت کي د حق او باطل د هغو دوو جبهو تر منځ د مسلسل او پرله پسې نښتو يوه اوږده لړۍ ده چي د يوې قيادت او مشري پيغمبرانو عليهم السلام کړې او د بلي واګي د (طاغوت) په لاس کې، د يوې جبهې غړي د الله تعالی په لار کي جنګېدلي او د بلي جبهې جنګيالي د ظالمو حکامو تر قومندې لاندي او د ظلم، فساد او بې عدالتۍ لپاره له آزادي غوښتونکو او عدالت پالو سره جنګېدلي، د يوې جبهې موخه د الله تعالی دين قائمول او انسان د انسان له بندګۍ ژغورل وو او د بلي جبهې جنګيالي د طاغوت له لوري استخدام شوي او د دوی د ظالمانه واکمنۍ د بقا او دوام لپاره جنګېدلي. د تاريخ په هر پړاو او د دې مسلسل جنګ په هر ميدان کي د ځوانانو ونډه تر بل هر چا زياته او ځلانده وه، دوی د ظالمانو په ضد پاڅېدلي، د پيغمبرانو عليهم السلام او عدالت غوښتونکو مصلحينو ملګرتيا ئې کړې او د حق په لار کي قربانيو ته چمتو شوي. د تاريخ په اوږدو کي چي کله هم کوم انقلاب راغلی، د مظلومانو د ژغورني لپاره کوم قيام شوی او ظالم حکومتونه نسکور شوي، په دې کي ځوانان مخکښ ول او انقلابونه د دوی د قربانيو په نتيجه کي بري ته رسېدلي، تل د ټولني باايمانو ځوانانو د پيغمبرانو عليهم السلام او زړه سواندو مصلحينو ملګرتيا کړې، د هدايت مشعلونه د دوی په لاس بل شوي، د ظلم او فساد په ضد ئې د مبارزې لپاره ملاتړلې،

مظلومو ولسونو او د جهالت په لومو کې ښکېلو پرگنو ته ئې د نېک بختۍ او سعادت زېرى ورکړى.

عظيم الشأن قرآن دغه څرگند حقيقت موږ ته د ابراهيم عليه السلام په قصې کي انځوروي او وايي: هغه په يوې مشرکي ټولني کي وزېږېد، پلار، کورنۍ، قوم او ټولنه ئې په شرک اخته او د نمرود په څېر ظالم واکمن ته ئې د انقياد غاړه ايښې وه، د ده حساس ضمير او دراک عقل نه پر ټولني حاکم نظام منلى شو او نه په شرک ولاړ مذهب، لا زلمى وو چي د خپل رب لوري ته ئې مخه کړه، پر ټولني له حاکم نظام او مذهب نه ئې خپل برائت اعلان کړ، له الله تعالى ئې وغوښتل چي بت ماتوونکى شي نه بت لمانځونکى، د نمرود په اور کي لوېدل ومني خو د هغه په وړاندي له سر ټيټولو ځان وساتي، کور، کلى، خپلوان پرېښودل او له وطنه هجرت قبول کړي خو د ظالم نظام او شرک لړلي مذهب تر سيوري لاندي ژوند کول ونه مني، الله تعالى دغه موحد او بت ماتوونکى زلمى د دې لپاره غوره کړ چي ټول راتلونکي پيغمبران د ده په اولاد کي مبعوث شي او بيت الله، دا د موحدينو قبله او د بنده له بندگۍ نه د آزادۍ نښه، د ده په لاس اعمار شي، همداراز قرآن زموږ مخي ته د يوسف عليه السلام قصه ږدي او راښيي چي څنگه دا صحرائي زلمي له زندانه قصر ته ورسېدو او د نړۍ د ستر هېواد ځواکمن مشر شو، د اصحاب کهف په نامه د

هغو زلميانو قصه راته کوي چي له طاغوتي نظام نه ئې بغاوت وکړ، د نوح عليه السلام په قصې کي راته وايي چي د قوم ځوانانو پرې ايمان راوړ او مشرانو ئې نه يوازي د ده مخالفت ته ملا وتړله بلکي ورته ويل ئې: څنګه ومنو چي ته د الله تعالی له لوري لېږل شوی استازی يې او ستا وعد و وعيد به تحقق مومي، حال دا چي څو بې خبره بادئ الرأى زلميان ستا خوا ته ودرېدلي؟! پيغمبر عليه السلام فرمايي: "د قوم ځوانانو زما ملګرتيا وکړه او مشرانو ئې زما مخالفت وکړ"، دا الهي سنت نه يوازي د تېر تاريخ په هر پړاو کي تکرار او په انقلابونو کي ئې د ځوانانو ځلانده ونډه څرګنده کړې بلکي د افغانستان په سترو سترو تاريخي پېښو کي هم ځلېدلی، د هېواد اسلامي نهضت د ځوانانو په لاس پيل شو، د اسلامي جهاد هېره شوې فريضه دوی راژوندۍ کړه، د روسانو په ضد اسلامي جهاد کي دوی مخکښان ول، هم ئې په فکري محاذ کي د دښمن مقابله کوله او هم په نظامي ډګر کي، دا دوی ول چي قلم او ټوپک ئې د يوه سنګر، يوې لاري او يوه سپېڅلي هدف وفادار او نه بېلېدونکي ملګري کړل، دا دوی ول چي ولس ئې جهاد ته چمتو کړ او آزادۍ ته د رسېدو لار ئې وروښوده، د دوی د سرښندونو او نه هېرېدونکو قربانيو په نتيجه کي سره امپراطوري په زوال محکومه شوه او د کمونيزم ټغر ټول شو، د صليبي ځواکونو په ضد روان جهاد هم د دوی په همت پيل شوی، کله

سرکونو ته راوتلي، په خپلو پرتمينو مظاهرو او دښمن لړزوونکو انقلابي شعارونو سره ئې پر دښمن گوزارونه کړي او ولس ئې پاڅون ته رابللی، ويده ئې راويښ کړي، وېرجن ئې ډاډه کړي او خلکو ته ئې د دښمن په ضد د پاڅون جرأت ورکړی، او کله ئې ټوپک ته لاس کړی، سنگرونو ته تللي او د هوښيار، حساس، زېرک او هدفمند مجاهد په توگه ئې عملاً د دښمن مقابله کړې.

دغو قرآني مفاهيمو او خپل دروند الهي مسئوليت ته په پام سره، موږ د هېواد د ټولو پوهنتونونو باايمانو محصلينو دا پرېکړه وکړه چې ټول مؤمن، هدفمند، متعهد او بااحساسه منور ځوانان په يوه منظم او ډاډمن صف کې راغونډ کړو، د هېواد په پېښو کې ئې اغېزمني او رغنده ونډې ته او د دښمنانو د فکري يرغل مقابلې ته چمتو کړو، له دې منظم صف نه د دوی د سياسي مبارزې لپاره مؤثر سنگر او د دوی د فکري او اخلاقي روزني لپاره اغېزمنه مدرسه جوړه کړو، په دې موخه او له دې احساس سره مو د محصلينو د اسلامي تنظيم بنسټ کېښود، چې دا دئ په دې رسالې کې ئې اهداف، تنظيمي اساسات، تگلاره او تشکيلات ستاسو مخې ته ږدو.

اللهم اهدنا الصراط المستقيم

# لومړی فصل

## عمومیات

**لومړۍ ماده:**

**نوم: د دې تنظيم نوم، د محصلينو اسلامي تنظيم دئ.**

**دويمه ماده:**

**زموږ اهداف: په يوه منظم صف کې د ټولو مؤمنو، هدفمندو، متعهدو او بااحساسه ځوانانو راغونډول، د هېواد په پېښو کې ئې اغېزمني او رغنده ونډې او د دښمنانو د فکري يرغل مقابلې ته ئې چمتو کول، له دې منظم صف نه د دوی د سياسي مبارزې لپاره مؤثر سنګر او د دوی د فکري او اخلاقي روزني لپاره اغېزمنه مدرسه جوړول، زموږ د مرام اساسي کرښي دي.**

**درېيمه ماده:**

**زموږ عقيده: الله تعالی زموږ معبود، محمد عليه السلام زموږ**

مقتدا، قرآن او سنت زموږ لارښود او د اختلافاتو د حل و فصل وروستۍ مرجع ده.

څلورمه ماده:

زموږ شعار: ایمان، علم، تقوی، دعوت، جهاد او په آزاد او خپلواک افغانستان کي د واقعي اسلامي حکومت اقامه زمونږ اساسي شعارونه دي.

پنځمه ماده:

زموږ تګلاره: موږ خپل اهداف، هدف ته د رسېدو طریقه او د مبارزې تګلاره د قرآن اونبوي سنت په رڼا کي ټاکو.

شپږمه ماده:

زموږ کړنلاره: د محصلینو د اسلامي تنظیم کړنلاره لاندي برخي احتواء کوي:

۱ د محصلینو د اسلامي تنظیم په لیکو کي د هغو متعهدو او هدفمندو محصلینو او زده کوونکو تنظیمول چي د اسلامي نظام اقامه ئې د ژوند هدف دئ او په دې لاري کي قربانۍ ته چمتو دي.

۲- په اسلامي افکارو او عقایدو د ځوانو زده کوونکو د سمبالولو او د فکري مبارزي لپاره د دوی د چمتو کولو په غرض منظم، مسلسل او پراخ دعوت او فرهنګي فعالیتونه.

۳- د تنظیم د متعهدینو د ذهني او جسماني صلاحیتونو د ودي لپاره

لازم او مناسب شرايط برابرول او په دې موخه تربيتي غونډې او کورسونه جوړول.

٤- د زده کوونکو د روا او قانوني غو ښتنو د تحقق او د هغوی په وړاندې د پرتو ستونزو د لرې کولو په خاطر له ټولو روا او قانوني لارو چارو استفاده او په دې اړه اجتماعي هڅو ته د زده کوونکو چمتو کول.

٥- په سياسي او احتماعي قضاياوو کې خپل شرعي مسئوليتونو ته د ځوانانو متوجه کول او د رغنده ونډې او اغېزناکو هڅو ته ئې تيارول.

٦- د حق او عدالت د تحقق لپاره تل د خپل ولس په خوا کې ودرېدل او د دوی له حقوقو دفاع کول.

٧- د هغو هڅو ملاتړ کول چې د اسلامي نظام د تحقق په لار کې ترسره کېږي او د هغو ناراوو اقداماتو په وړاندې غبرگون ښودل چې د اسلام، خپلواکۍ، ملي وحدت او د هېواد اسلامي هويت په خلاف رامنځته کېږي.

# دوهم فصل

# عضويت

اومه ماده: د محصلينو په اسلامي تنظيم کي د عضويت مراتب دا دي:

۱ - مؤيد:

- مؤيد هغه څوک دئ چي د محصلينو د تنظيم غړيتوب ته لېوال دئ، د تنظيم د مرام، تګلاري او اصولو ملاتړ کوي، په غونډو کي ئې برخه اخلي، هغه تربيوي نصاب پلي کوي چي د مؤيدينو لپاره وضعه شوی.
- دوی ته له امتحاني مرحلې وروسته د خپلي اړوند حلقې له لوري د غړيتوب سند ورکول کېږي.

۲- عضو:

- د منځنيو او لوړو تحصيلاتو هغه محصلين د اعضاوو په نامه

یادېږي چي په تنظیمي حلقاتو کي تنظیم شوي، د مؤیدینو له مرحلې بریالی تېر شوی، له تنظیم سره ئې د تعهد، وفادارۍ او التزام لوړه کړي، په ټولو دعوتي او فرهنګي فعالیتونوکي فعاله برخه اخلي او هغه تربیوي نصاب پلي کوي چي د اعضاوو لپاره وضعه شوی.

- دوی ته د اړوند حوزې له لوري هغه مهال د عضویت سند ورکول کېږي چي په تنظیمي او دعوتي فعالیتونو کي د فعالي او منظمي برخي اخیستو په نتیجه کي خپله وړتیا ثابته کړي.
- د عضویت پاڼه د مربوطه حوزي د عمومي ناظم په وړاندیز او د دعوت د مسؤل په موافقې ورکول کېږي.

۳ - رکن

- د محصلینو د تنظیم هغه غړی د رکن په نامه یادېږي چي د عضویت پر شرطونو سر بیره لږ تر لږه د غړیتوب دوه کلنه سابقه ولري، په د عوتي او تنظیمي چارو کي ئې ونډه ځلانده او په پوره نشاط او اهتمام سره ئې په ټولو انفرادي او اجتماعي فعالیتونو کي برخه اخیستې وي او هغه تربیوي نصاب پلي کوي چي د ارکانو لپاره وضعه شوی.
- د رکنیت پاڼه د مر بوطه حوزي د عمومي ناظم په وړاندیز، د محصلینو د اسلامي تنظیم د اجرائیه شورى په تأیید او د اعلی ناظم په موافقې او لاسلیک ورکول کېږي.

اتمه ماده:

د ارکانو مواصفات:

- ديني وجايبو ته جدي التزام.
- د دعوت په چاروکي تحرک او نشاط.
- په فردي او اجتماعي اړيکو کي ايمان او عقيده د دوستۍ او دښمنۍ لپاره بنسټ گرځول او په دې اړه د اسلامي لارښوونو مطابق عمل کول.
- له هر راز جاهلانه او باطل تعصب نه ډډه کول.
- خپل ټول صلاحيتونه د تنظيم داهدافو د پلي کولو په لار کي په کار اچول او په دې برخه کي مالي او ځاني قربانيو ته چمتووالی.

نهمه ماده:

له تنظيم څخه د غړو اخراج: په تنظيم کي د يوه غړی عضويت هغه وخت پای ته رسي چي:

- له تنظيم سره خپلي ژمني تر پښو لاندي کړي.
- په داسي کار لاس پوري کړي چي د تنظيم له اساسي اصولو نه انحراف گڼل کېږي او د تنظيم موقف، اخلاقي او ديني حيثيت ته زيان رسوي.
- تنظيمي اصول نه مراعاتوي او له وينا او کړو وړو ئې څرگنده شي چي تنظيم او اهدافو ته ئې وفادار نه دئ.

- له بلي ډلي او تنظبم سره تعهد وکړي.

لسمه ماده:

د اعضاوو د اخراج پرېکړه د حوزي شوری په وړاندیز، د ناظم په موافقې او د اعلی ناظم په تائید ترسره کېږي.

یولسمه ماده:

د ارکانو د اخراج لپاره د مربوطه حوزې پرېکړه او د اجرائيه شوری موافقه ضروري ده.

دولسمه ماده:

د تنظیم د مسئولینو او غړو وظائف دا دي:

- د دعوت چارو ته جدي پاملرنه او په هغه کي فعاله برخه اخیستل او مؤثر کسان دعوتول.
- اونیزي، میاشتنۍ او کلنۍ غونډي دائرول او په هغوی کي حتمي شرکت.
- تربیتي نصاب پلي کول، غړي د نصاب مربوط کتابونو په لوستلو او په غونډو کي د لوستل شوو کتابونو په اړه په وینا کولو مکلفول.
- د مطالعې لپاره د کتابونو توزیع او بېرته راغونډول او د مطالعه شوو کتابونو په اړه د لوستونکو انتباهات، ملاحظات او نظريات راغونډول.
- د اعلاميو خپرول.

- په اجتماعي فعالیتونو، مظاهراتو او اعتصاباتو کي د تنظیم له پرېکړو سره سم برخه اخیستل.
- د حق او آزادۍ د لاري له مبارزینو سره خواخوږي ښودل، د دوی ملاتړ کول، د یرغلگرو او اشغالگرانو او د دوی د جنایاتو غندنه.
- د تنظیم اهداف او مرام ځوانانو ته رسول، د تنظیم په لیکو کي د ورېدو لپاره ئې رابلل او د مخالفینو او معارضینو اعتراضاتو ته ځواب ویل او د دوی تبلیغات شنډول.
- په هغو کسانو او د دوی په غلطو سیاستونو او دریځونو جدي نیوکي کول چي له دښمن سره یو ځای شوي او د پردیو تر قومندې لاندي د ولس په خلاف جنگېږي.
- د ځوانانو غیرت او احساسات راپارول او له اسلام او هېواد نه دفاع ته ئې چمتو کول.

# دریيم فصل

# تشکيلات

ديارلسمه ماده:

- د محصلينو تنظيم شورايي نظام لري، مسئولين ئې د انتخاباتو له لاري ټاکل کېږي.
- په هر ټولکي کي د تنظيم غړي په پنځه کسيزو حلقو کي تنظيمېږي، دوی خپل سر حلقه په خپله ټاکي.
- د سرحلقو له مجموعې نه د ټولګي شوری جوړېږي، دا شوری د ټولګي ناظم غوره کوي.
- د ناظمينو له مجموعې نه د پوهنځي شوری جوړېږي چي د پوهنځي ناظم غوره کوي.
- د پوهنځيو ناظمين د پوهنتون د شوری غړي دي چي د پوهنتون

عمومي ناظم به د دوی له لوري انتخابېږي.

- د تنظیم مرکزي شورى د عمومي ناظمینو له مجموعې جوړه شوې چي د تنظیم اعلى ناظم به د دوی له لوري د دوو کلونو لپاره غوره کېږي.

خوارلسمه ماده:

د اعلى نا ظم وظایف:

۱- له انتخابېدو وروسته او د خپلو دندي له پیله مخکي به د مرکزي شورى په وړاندي په دې الفاظو لوړه کوي: د الله تعالى په نامه لوړه کوم چي په خپل شخصي او اجتماعي ژوند کي به د اسلامي ضوابطو متابعت کوم، د تنظیم په امانتونو او د تنظیم له لوري راکړ شوو صلاحیتونو کي به په پوره احتیاط او امانت سره تصرف کوم، د محصلینو له حقوقو او ګټو نه جدي دفاع به خپله اساسي دنده ګڼم او هڅه به کوم چي د الله تعالى په مرسته د تنظیم د مضبوطیا او پیاوړتیا په لار کي اغېزمن ګامونه واخلم او پدې اړه خپل مسئولیتونه ادا کړم. والله على ما اقول وکیل

۲- د تنظیم د اهدافو د تحقق لپاره په اخلاص، صداقت او جدیت سره زیار ایستل.

۳- په خپلو ټولو اجراءاتو کي د تنظیمي اصولو مراعات او د همدې اصولو په رڼا کي د حوزو، حلقو او هستو د فعالیتونو لارښوونه او

څارنه.

٤- کارونه د خپلو اړوند ادارو له لاري او له مسئولينو سره په مشوره ترسره کول او په ټولو اهمو قضاياوو کي له اجرائيې او شورى سره مشوره کول او هغه پرېکړه وروستنۍ پرېکړه ګڼل او د عملي کولو لپاره ئې صادقانه هڅه کول چي د حاضرو غړو د اکثريت رأيه ترلاسه کوي.

٥- د ناظمينو د فعاليتونو څارنه او هغوي ته لازم هدايات ورکول.

٦- د تنظيم بوديجه او ملکيت به الهي امانت ګڼي او د عوايدو او مصارفو تفصيلات به اجرائيه او مرکزي شورى ته وړاندي کوي.

٧- اعلى ناظم په خپلو اجراءاتو کي مرکزي شورى ته مسؤل دئ.

پنځلسمه ماده:

د اعلى ناظم صلاحيتونه:

- اعلى ناظم د مرکزي شورى او اجرائيه شورى مشر هم دئ چي غونډي ئې د ده تر رياست لاندي دائرېږي.
- د تنظيم وياند او ممثل دئ او د تنظيم مواقف د ده لوري توضيح او بيانېږي، کولى شي په دې اړه د خپل صلاحيت ځيني برخي په موقته يا دائمي توګه د تنظيم کوم رکن يا هيئت ته وسپاري.
- د تنظيم ټول ناظمين د ده تر لارښووني لاندي کار کوي او د ده په وړاندي د خپلو اجراءاتو مسئول دي.

شپاړسمه ماده:

د اعلی ناظم د عزل موجبات:

اعلی ناظم په لاندي صورتونو کي له خپلي دندي څخه عزل کېږي:

۱- د شریعت له احکامو او د تنظیم له اصولو څخه سرغړونه وکړي.

۲- د اهمال، کسالت او بیمارۍ په وجه خپلي دندي په ښه توګه ترسره نکړی شي.

۳- د مرکزي شوری دوه ثلثه ۳/۲ غړي د ده د عزل پریکړه وکړي.

اولسمه ماده:

د اعلی ناظم د عزل او وفات په صورت کي د ده معاون د بل ناظم تر ټاکل کېدو یا د قانوني مودي تر بشپړېدو دا دنده پرمخ بیايي.

اتلسمه ماده:

اعلی ناظم چي د محصلینو له مینځه ټاکل کېږي، که د ناظمیت په دوران کې له تحصیله فارغ شو نو د خپلی مودې تر پایه پخپله دنده پاته کیدی شي.

# څلورم فصل

## انتخابات

نولسمه ماده:

- د تنظیم په هستو کي هر کال، په حلقاتو او حوزو کي او د اعلی ناظم لپاره هر دوه کاله وروسته انتخابات تر سره کېږي.
- هیڅوک حق نه لري ځان د کوم مقام لپاره کاندید کړي یا انتخاباتي مبارزه وکړي، البته نور غړي کولی شي د خپلي خوښي او اعتماد وړ کس ونوموي خو دوی هم دا حق نه لري چي د چا په ګټه یا یا د چا په خلاف انتخاباتي مبارزه وکړي.
- په انتخاباتو کي هغه غړی بریالی ګڼل کېږي چي د اکثریت رأی ورکوونکو تأیید ترلاسه کړي.
- د آراوو د تساوي په صورت کي به بیا انتخابات ترسره کېږي.
- د انتخاباتو نتایج به په اړوند غونډي کي، د رأی ورکوونکو په

وړاندي او له ځنډه پرته اعلانېږي.

- نوی منتخب شوی غړی د نتایجو له اعلان سره سم او له ځنډه پرته د مخکني استازي ځای نیسي.

شلمه ماده:

د هستو مسؤلین د حلقو د ناظمیونو په وړاندي، د حلقو ناظمین د حوزو عمومي ناظمینو په وړاندي، د حوزو ناظمین د اعلی ناظم په وړاندي او اعلی ناظم د مرکزي شوری په وړاندي لوړه کوي.

# پنځم فصل

# مرکزي شورى

يوويشتمه ماده:

- مرکزي شورى چې د محصلينو د تنظيم تر ټولو لوړه او باصلاحيته مرجع ده، د ټولو پوهنځيو له ناظمينو څخه جوړه شوې او د تنظيم اعلى ناظم ئې مشري کوي.
- د مرکزي شورى غړي د دوو کلونو لپاره غوره کېږي.
- مرکزي شورى په عادي حالاتو کي هر کال دوه ځلي او په فوق العاده او اضطراري حالاتو کي د اعلى ناظم او اجرائيه شورى په غوښتنه دا ټر ېږي.
- د شورى يو ثلث غړي هم کولى شي د شورى د انعقاد غوښتنه وکړي.
- په عادي حالاتو کي د شورى د غونډو نصاب د غړو دوه ثلثه

۳/۲ دئ، او په اضطراري حالاتو کي على الاقل یو ثلث دئ خو مرکزي شورى حق لري په خپلو عادي غونډو کي د اضطراري حالت پرېکړي تأیید، تعدیل یا تردید کړي.

- د عادي غونډو لپاره به غړو ته د وخت، ځای او اجندا په اړه لږ تر لږه دري اونۍ مخکي اطلاع ورکول کېږي، خو د فوق العاده غونډو لپاره احرائیه شورى کولى شي تر دي کمه موده وټاکي.
- د شورى مصوبات د حاضر غړو د اکثریت توافق ایجابوي خو د تنظیم په اهدافو، اساساتو، تګلاري او تشکیلاتو کي تعدیل او تغییر د دوه ثلثه غړو توافق ته ضرورت لري.

دوه ویشتمه ماده:

د مرکزي شورى صلاحیتونه:

- د اعلى ناظم انتخاب، د رأیو په اکثریت سره.
- د اعلى ناظم عزل په دوه ثلثه رأیو.
- د اعلى ناظم له لوري وړاندي شوې اجرائیه شورى ته د اعتماد رأیه ورکول.
- د اجرائیه شورى له غړو څخه سلب اعتماد.
- د ناظم اعلى له لوري وړاندي شوې تګلاري څېړنه او تصویب.
- د دوه ثلثه غړو په توافق د تنظیم په اهدافو، اساساتو، تګلاري او تشکیلاتو کي تعدیل او تغییر.

- له اعلی ناظم او ناظمینو څخه استیضاح.

# شپږم فصل

# اجرائيه شورى

دريويشتمه ماده:

- اجرائيه شورى چې د مرکزي شورى ممثله او د مصوباتو د تنفيذ باصلاحيته مرجع ده، غړي ئې د مرکزي شورى له منځه د ناظم اعلى په وړانديز او د مرکزي شورى په موافقه د دوو کلونو لپاره غوره کېږي.
- د اجرائيه شورى غړي دا دي: اعلى ناظم، معاون ئې، د فرهنگي چارو مسئول، د دعوت او تنظيم مسئول، د سياسي چارو مسئول، د اداري او مالي چارو مسئول.
- اعلى ناظم د دې شورى مشر دئ او غړي ئې د ده په وړاندي

مسئول او د ده تر لاربښووني لاندي خپلي دندي ترسره کوي.

- اجرائيه شورى په عادي حالاتو کي په هرو دوو اونيو کي يو ځل غونډه لري، خو اعلى ناظم هر وخت دا غونډه رابللى شي.
- د اجرائيه شورى پرېکړي د اکثريت په توافق وي.

ځلرويشتمه ماده:

د اجرائيه شورى وظايف او صلاحيتونه:

- د تنظيم د اهدافو د تحقق لپاره مناسب تدابير نيول.
- د ضوابطو مطابق او د تشکيلاتو په محدوده کي د مسئولينو توظيف.
- د اداراتو وظايف او د مسئولينو صلاحيتونه او مسئوليتونه ټاکل.
- د بودجې تنظيم او په تصرفاتو نظارت.
- د کاري هيئتونو او کميسونونو ټاکل.

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أشهد أن لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ